# دالوطن ځيرنه:

## افغانان وډوډی ته اړتيا لري نه وبمونو ته !

دانټرنيټ دفارسي سرچينو څخه

ژباړونکی ؛ عزيزاحمد خوارمل

دسعودي عربستان ورځپاڼې الوطن: «داروپاييانو دپراخه ګوتنيونی په اړه دشمالی اتلانتيک تړون دناټو دسازمانو دځواکونو دیرغل اوعملياتو په هکله چې دافغانستان دقندوز په ولايت کې ترسره سو اوپه پايله کې نهوی (۹۰) تنه انسانان مړه سول ،اودغه کړنه ددی ښکارندوي دي چې اروپا په ښه توګه سره دداهسی خونړی يرغل اوعملياتو خطريې ترلاسه کړی دی» .



دسعودی عربستان چاپ دالوطن ورځپاڼې دپورتنی مطلب په خپره ولوسره ،په دی ځيرنې سره تردی سرليک لاندی «افغانان وډوډی ته اړتيا لري نه وبمونو ته» وليکل: اروپا ډېر ښه دناټو دځواکونو دا وروستی يرغل اوعمليات يې چې دافغانستان دقندوز دولايت په يوه سيمه کښې ترسره سو ، ددی وحشيانه يرغل اوهمدا شيان دنورو همداسی عملياتو خطريې ترلاسه کړی اوپوهيږی چې همدا ډول يرغل اوعمليات دتروريزم په وړاندی دمبارزی اودزيارپه چوکاټ کې نيسته اوځای نه لري ځکه چې دغه ډول کړنی وافغانانو ته امن اوسوله دځانه سره نه لري.

دغه ورځپاڼې په دې اړه لیکلي دي : بیله کوم شک څخه دغه وروستي یرغل دیوی ریښه یې بدلون په رامنځته کولو سره دنړیوالو ځواکونو په استراتیژۍ کې ،دطالبانو په وړاندې په مبارزه کې دی .

دهمدې کبله دبې ګناه انسانانو او غیر وسلوالو خلکو دوژلو ادامه ورکول دافغانستان د دولت اودلویدیزو هیوادونو داړیکو دخړپړتیا سبب ګرځیدلی دی . دقندوز پرولایت باندی یرغل په یو نامناسب وخت کې ترسره سو ځکه چې لویدیز دخپلو ځواکونو دعملیاتو او یرغلونو دبریاو دپوره کیدو په خاطر دافغانانو نه د ملاتړ دراجلبولو په حال کې په دی هیواد کې دی. نو دغه ډول یرغلونه او پوځی عملیات دافغانستان دخلکو دنارضایتی اصلی علت دبهرنی ځواکونه دشته والی په هکله په دی هیواد کې دی .

دالوطن ورځپاڼې ددې مطلب په ادامه سره لیکي : دملګرو ملتونو دیوشمیر ارقامو پربنسټ ، کابو دوه پر دری برخه ولسی او غیرو سلوال خلک دکابل د دولت دپلوی ځواکونو په وسیله په جګړو او اخ اوډب کې وژل سوي دي اوډېره برخه ددغو وژل سویو خلکو څخه په هوایی یرغلونو کې دمنځه تللي دي .

دناټو په پراخو یرغلونو او عملیاتو سره په افغانستان کې دولسی او غیر وسلوالو خلکو دوژنو زیاتوالی دننه په افغانستان کې دخلکو یوډول نارضایتی ، دبهرنی ځواکونو په وړاندی دطالبانو سره د پلوی کیدو او ملګری سبب ګرځیدلی دی. وروستی بدلونونه وښودل چې په افغانستان کې پرپوځی استراتیژی باندی په مطلق تکیه کولو سره په دی هیواد کې هیڅکله هم امن او سوله نه سی رامنځته کیدی اوهیڅکله به هم دا ډول کړنی دناټو وغړیو هیوادونو ته مرسته ونه کړی چې په افغانستان کې دامنیت او سولی په رامنځته کولو او تامینولو کې دی بریاوي ترلاسه کړی او بریالی دي سي.

دغه ورځپاڼې ددی مطلب په پای کې یې ولیکل : افغانان دخپل ژوند کولو او ژوندی پاته کیدلو دپاره وډوډی ته اړتیا لري ،نه وډول ،ډول بمونوته . په تیر وخت کې که هرڅونی بمونه چې ددی ملت پرسر وه اوره ول سول نوریې بس دی. دغه ولس « افغانان» او سمهال وزده کړی ،روغتیا ،دمفاسدو اولوږی پرضد مبارزه ،پرمختګ او پراختیا ته اړتیا لري چې هیڅکله یې ددغو کړنو بڼه او رنګ یې نه دی لیدلی ، ولسی او غیرو سلوال افغانان نښانه نیول او تریرغل لاندی راوستل اوهمدارنګه په دی هیواد کې دبیارو غاونی دکړنلاری د پخ بهیر ترسره کول او ددی بهیر کرار ،کرار تګ او خوزښت ،طالبان او نور مخالف وسلوال ډلی به ودی ته وداره سي ترڅو دافغانانو دناهیلیو دکبله په پانګه اچونی سره ولسونه او خلک دبنسټپالی ولورته راکش کړی ./.

اخیځلیک : دقطره نیوز څخه .